PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۳۲

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۱۳۲ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۰۶ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د تلې ۴ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شوال المکرم ۲۸ مه د ۲۰۱۱ د سپتمبر ۲۶ مه

هند د افغانستان په بیارغونه او ثبات کې برخه اخلي

هند به له افغانانو سره د یوه ښه راتلونکي د جوړولو په برخه کې خپله ونډه واخلي، دا خبره د هند صدراعظم ډاکټر منموهن سنګ د شنبې پر ورځ د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبلۍ کې د وینا پر مهال وکړه. سنګ وویل: موږ به په دې برخه کې ځکه مرسته وکړو، چې د سیمې ثبات او سوکالي نه ببلېدونکي دي.

سنګ په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ په ٦٦ مه غونډه کې د وینا پر مهال دغه راز وویل: موږ غواړو دارام سمندر په هېوادونو کې چټکه ۴مخ

پاکستان ومنله چې له حقاني شبکې سره اړیکې لري

۳مخ

دخرڅلاو وړاندیز

ASA American Soybean Association
AMERICAN SOYBEAN ASSOCIATION
KABUL - AFGHANISTAN
If you believe, belong.

دامریکن سویابین اسوسیشن موسسه (ASA) او د امریکا د متحده ایالاتو د کرنې دیپارتمنټ (USDA) اعلانوي:

د ۱۴۹۶۰۰ کارتنه تصفیه شویو د خوړلو وړ سویابین غوړیو داوطلبۍ چې سپارنه او تحویلي یې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د میاشتې له ۵ نیټې څخه پیل اود نومبر د میاشتې تر ۲۰ نیټې پورې ترسره کیږي.

هغه پیسې چې ددې غوړیو دخرڅلاو څخه ترلاسه کیږي، په افغانستان کې به پرمختیایې کرهنیزو پروژو ته دبسپنې په ډول ورکړل شي.

- داوطلبي د ترلو آفرنو پشکل د اکتوبر دمیاشتې په ۱ لمړۍ نیټه ۲۰۱۱ کال ترسره کیږي.
- دپام وړ اوجدي داوطلبان کولای شي د داوطلبي د اسنادو کاپي د لاندې ادرس څخه ترلاسه کړي.
- داوطلب مکلف دی چې (۲۰۰۰ /دوه زره) امریکایي ډالر دهرلاټ یا سهمي لپاره د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر د میاشتې د ۲۷ نیټې څخه دمخه د خرڅونکي په بانکي حساب کې چې په ستندرد چارترد بانک کې موقعیت لري د ضمانت په ډول تحویل کړي.
- دسویابین تصفیه شوي غوړي دامریکا د متحده ایالاتو تولید دی، چې په خلور لیتره پلاستیکي او یا فلزي ډبیوکي چې په هر کارتن کې ۶ ډبې دی ځای پر ځای شوي دي.
- دپیرودلو ترټولو ټیټ مقدار یو لاټ (سهمیه) ده، چې ۶۸۰ کارتنه کیږي چې په مجموعي ډول سره ۲۲۰ لاټونه پدې داوطلبۍ کې وړاندې کیږي.

د امریکن سویابین اسوسیشن (ASA) د امنیتي نماینده دفتر
کارته پروان، د قصابانو کوڅه
کینې لاسته پنځم نمبر سړک
راسته خواته ۷ لمبر کور
کابل افغانستان
محترم سباوون: ۰۷۹۴۴۴۰۹۱۶
تاسو کولای شئ د اسنادو انګلیسي کاپي له لاندې بریښنالیک څخه ترلاسه کړئ:
بریښنالیک: asamonetize@yahoo.com
امریکا: ۱-۲۰۹-۳۴۵-۶۱۰۲+
او یا
Mr. Robert Clark –, Columbus, Ohio
Main Line: + ۱ ۶۱۴ ۸۳۹ ۲۷۰۰
Fax Number: + ۱ ۶۱۴ ۸۳۹ ۲۷۰۹
E-mail address: rclark@cbi-global.com
۵۸۹۸ Cleveland Avenue, Columbus, Ohio ۴۳۲۳۳۱, U.S.A

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

د ارتزاقی توکو بندول، د پاکستان یوه بله ناروا

که له یوې خوا د افغانستان د مسایلو په هکله پر پاکستان د امریکا سیاسي فشارونه زیات شوي، نو له بلې خوا پاکستان غواړي په یو شمېر داسې اعمالو او کړنو لاس پورې کړي، څو امریکا ته دا وښیي، چې پاکستان په سیمه کې د دوی لپاره یو مهم ضرورت او مهم رول لوبوي. او په دې سره غواړي د امریکایانو د غوسې او فشارونو کچه راکمه کړي او په دې ډول بیا هم خپل هدف ته لاسرسی ومومي. په همدې نیت پاکستان له څو ورځو راهیسې پر یو لړ ناروا وو لاس پورې کړی، چې له هغې جملې د افغانستان پر سرحدي سیمو او لایتونو باندې پرلپسې توغوندیز بریدونه دي، چې له امله یې زمونږ یو شمېر هېوادوال شهیدان، ټپیان، بېځایه او نور ډول ډول مالي زیانونه ورته رسېدلي دي، چې له بده مرغه افغان دولت یوازې په شعاري ګوتنیونو او په دې اړه د تفاهم او خبرو اترو له لارې د ستونزې د هوارې ټټر وهلی، خو په عمل کې یې هېڅ پایله هم نه ده درلودلې او ان خبره لاپسې نوره هم ورانه شوې ده. همداشان د پاکستان یوه بله ناروا چې ښایي دا هم لکه مخکې مو چې وویل د پاکستان د چل او نیرنګ یو بل اړخ وي او په دې ډول به او به خړوي او کبان به په کې نیسي. دا ناروا چې ظاهراً اقتصادي اړخ لري، پر افغانستان د اوړو او یو شمېر نورو ارتزاقي توکو بندیز دی، چې پرون یې سر را پورته کړ. رسنیو راپور ورکړ، چې له درېیو ورځو راهیسې پاکستان په تورخم پوله د افغان سوداګرو له اوړو بار ۲۰۰ لارۍ درولي او افغانستان ته یې د اوړو پر لېږد بندیز ولګاوه. د ختیځو ولایتونو د سوداګرۍ خونې د چارواکو په وینا د پاکستان حکومت د ننګرهار د سوداګرو له اوړو بار ۲۰۰ لارۍ، چې ۵۰۰۰ ټنه اوړه دي، له څلورو ورځو راهیسې په تورخم بندر کې درولي دي. خو تر اوسه افغان دولت په دې برخه کې هېڅ ډول اقدام هم نه دی کړی. د یادې خونې د چارواکو په قول د ورځې له سوداګرو څخه د ولاړو لاریو پر سر لس زره پاکستاني روپۍ د اضافي کرایې په نامه اخیستل کېږي او دا یې هم ویلي چې د سوداګرۍ وزارت او سوداګرۍ نړیواله خونه یې له دغې ستونزې خبر کړي دي. همداشان دا هم ویل شوي، چې په همدې دوو ورځو کې په یادو ولایتونو کې د اوړو د یوې پنځوس کیلویي بورۍ په بیو کې تر سلو افغانیو پورې لوړوالی راغلی دی او ښایي د پاکستان په دې کار سره دا لوړوالی نور هم پورته وخېژي. په هر صورت، پاکستان په دې ډول غولوونکو کړنو سره غواړي هم افغان دولت او هم امریکا د ځان پر وړاندې مات کړي، ځکه افغانستان تر ډېره د ګاونډیو هېوادونو هر اړخیزې مرستې ته اړ دی، چې د دغو مرستو ډېره برخه اقتصاد جوړوي، نو په دې ډول که چېرې پر افغانستان اقتصادي بندیزونه ولګوي او خپل دا رتزاقي توکو صادول افغانستان ته بند کړي، نو افغان دولت او په ټولیزه توګه افغان ولس له ګڼو اقتصادي ګوابنونو سره مخ کېږي، ځکه د افغانستان لپاره تر ټولو نژدې او لنډه لار پاکستان دی. په دې توګه باید ووایو چې پاکستان تل د افغانستان پروړاندې غولوونکی سیاست او کړنلاره غوره کړې او هر وخت یې هم افغان دولت، هم نړیوالې ټولنې او هم امریکایانو ته بازي ورکړې او نور باید افغان دولت، نړیواله ټولنه او امریکا د پاکستان د غولوونکو او بازي ورکوونکو کړنو، لافو او خبرو اترو پر وړاندې جدي دریځ ونیسي او په دې برخه کې د شته سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل لپاره دې په نړیواله کچه ډیپلوماتیکه لار وګوري!

آیا جنجال ها بر سر انتخابات مجلس نماینده گان پایان یافته است؟

احمد ارشاد خطیبی

پس از آنکه کمیسیون مستقل انتخابات ۹ تن از نامزدان معترض انتخابات مجلس نماینده گان را برنده اعلام کرد، ریاست جمهوری کشور از آن حمایت کرد و جنجال ها انتخاباتی را پایان یافته اعلام نمود.

ریاست جمهوری چاره یی غیر از این نداشت، ارگ که به دلیل حمایت از ایجاد محکمهٔ ویژهٔ انتخاباتی، نقش اصلی در بحران انتخابات دارد، با این اوصاف راه را گم کرده است.

ریس جمهور کرزی تصور نمی کرد که ماجرای انتخابات سال گذشته این قدر طولانی شود و مداخله در امور مجلس نماینده گان این همه هزینه دربر داشته باشد.

حکومت در ماجرای محکمهٔ انتخابات به مصداق ضرب المثل "هم به میخ می زند هم به نعل" رفتار کرد.

حامد کرزی بارها در دیدار با اعضای مجلس نماینده گان محکمهٔ ویژه را غیر قانونی می خواند و وعدهٔ الغای آن را می داد، اما در عمل از این محکمهٔ فرمایشی حمایت می کرد.

هنگامی که محکمهٔ ویژهٔ انتخاباتی ۶۲ نامزد معترض را برنده اعلام کرد، زمان برای عملی ساختن این فیصله از سوی حکومت فراهم شده بود.

اما جکومت توان اجرای آن را نداشت و رییس جمهور که

متوجه بحران شده بود، شانه خالی کرد و با سپردن فیصلهٔ محکمهٔ ویژهٔ انتخاباتی به کمیسیون انتخابات بار دوش خود را به دوش فضل احمد معنوی رییس کمیسیون مستقل انتخابات قرار داد.

متاسفانه کاسهٔ آب بر سر آقای فضل احمد معنوی چپه شد و او با برنده خواندن ۹ نمایندهٔ معترض و سلب صلاحیت ۹ نمایندهٔ برحال، کاری بر خلاف همه کارهای ارزشمند کمیسیون تحت امرش کرد.

معنوی بازی انتخاباتی را باخت و با این باخت سنگین حمایت بخش اعظم اعضای مجلس نماینده گان و مردم افغانستان را از دست داد.

این شکست معنوی از سوی ارگ ریاست جمهوری استقبال شد و حلقات وابسته به ارگ ریاست جمهوری در پی آن شدند، تا به مردم وانمود سازند که بازی را خاتمه یافته تصور کنند.

نماینده گان طرفدار ارگ در مجلس نماینده گان و مجلس سنا سعی کردند، همین حرف حکومتی ها را تکرار نمایند.

در نشست روز چهارشنبه (۱۶ سنبله) مجلس نماینده گان چندین نماینده اظهار داشتند که بحران انتخابات مجلس نماینده گان پایان یافته و اعضای ایتلاف حمایت از قانون باید در نشست ها مجلس شرکت نمایند.

در این نشست محمد محقق نمایندهٔ کابل، اقبال صافی نمایندهٔ کاپیسا و چند تن دیگر از اعضای مجلس نماینده گان بدون اینکه دلایل موجه ارایه نمایند، انتخابات را خاتمه یافته خواندند.

اما واقعیت چیز دیگری است، تصور می شود که حتا این آقایان هم می دانند، جنجال ها انتخاباتی به این ساده گی حل نمی شود، اما برای اینکه بگویند هنوز هم آنان تمام نشده اند، چنین اظهارات خوشبینانه یی را مطرح می سازند.

در واقع حکم اخیر کمیسیون مستقل انتخابات جناح های درگیر در انتخابات را رادیکال تر ساخت.

ایتلاف حمایت از قانون که جداً با تغییر در ص۳

د افغانستان کرنیز محصولات، ستونزې او هیلې

د کرنیزو چارو متخصیصینو ویل، افغانستان د کال په هر موسم کې ښه سابه، ګټور کیمیاوي بوټي او ډول ډول لمدې او وچې میوې تولیدولای شي، کیفیت یې هم د نړۍ د ډېرو هېوادونو له محصولاتو ښه دی او په بهر کې یې مینه وال هم ډېر دي، خو دا محصولات بهرنیو مارکیټونو ته پر وخت او لازمو تخنیکي لارو او وسایطو نه رسېږي.

د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزیر محمداصف رحیمي وویل، په دې علمي ناسته کې به د شته ستونزو د له منځه وړلو پر لارو چارو خبرې وشي او پروګرامونه به ترتیب شي: (نا مناسب لېږد او ترانسپورټ د دې سبب شوی چې بیې لوړې، عواید او د شرکتونو ګټې کمې شي، تولید، مارکیټ او مینه وال شته، خو لوژستیک مو نیمګړی دی، چې داعرضه ورسوي، مور باید د دې ستونزې اواري ته کار وکړو.)

ښاغلي رحیمي زیاته کړه، د هېواد د محصولاتو له صادرولو څخه په مجموع کې بزګر او صادروونکي درې فیصده ګټه اخلي او که چېرې دا محصولات او میوې په معیاري ډول دسته بندي او په مناسبو وسایلو او وسایطو بهرنیو مارکیټونو ته ورسېږي، د ګټې اندازه به یې درې دېرش فیصدو ته پورته شي.

د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د پراختیا لپاره یو، ایس، ایډ، یا د امریکا د متحدو ایالاتو نړیوالې پراختیایي اداره له څو کالو راهیسې له دې وزارت سره یو لړ فني او مالي مرستې پیل کړي او د دې وزارت چارواکي هم وایي چې دې مرستو د هېواد په کرنیز سیستم او د ظرفیتونو په لوړولو کې د پام وړ بدلون راوستی دی.

د افغانستان لپاره د «یو، ایس، ایډ،» د کرنې د برخې رییس مارک کراتور وویل، دوی په دې لاره کې د لسګونو مېلیونو ډالرو په ارزښت د هېواد په یوویشتو ولایتونو کې یو لړ پروګرامونه پیل کړي او په راتلونکي کې به هم دې مرستو ته دوام ورکړي: (امریکا په ډېر ویاړ د افغانستان له حکومت سره مشارکت ته غاړه ږدي، ډېر کارونه باید ترسره شي، دا ښکاره خبره ده چې تجارتي زراعت په افغانستان کې داسې یو شی دی، چې په بهر کې هم ورته بازار مونډل کېدای شي.

زمور اوسنی ابتکار به تر هغه دوام وکړي، چې د افغانستان لپاره یوه نوې او نیکمرغه راتلونکې تضمین کړي.)

مسوولینو وویل، د کرنیزو محصولاتو د صادراتو د پراختیا د پروګرام له لارې تر اوسه کابو اته زرو بزګرو ته پورونه ورکړل شوي او په پام کې ده چې تر راتلونکو دوه درې کلونو کې د پور اخیستونکو شمېر لس زرو ته پورته شي.

د ازادي راډیو د راپور له مخې، له دې هلوځلوسره سره د هېواد زیاتره بزګر او باغ لرونکي د اوبو، کانالونو، د وسایلو او وسایطو او له دوی سره د دولت د لازمو مرستو له نشتوالي شکایت کوي.

پاکستان ومنله چې له حقاني شبکې سره اړیکې لري

پاکستان وایي، چې یوازې دوی له حقاني ډلې سره اړیکې نه لري، بلکې نور هېوادونه یې هم لري.

پاکستاني چارواکو دغه څرګندونې وروسته له هغه وکړې، چې امریکایي لوړ پوړو چارواکو په کابل کې د امریکا پر سفارت له بریدونو وروسته د پاکستان پر حکومت او استخباراتي اداړې تور ولګاوه، چې نه یوازې له حقاني ډلې سره اړیکې لري، بلکې د کابل په بریدونو کې یې له حقاني ډلې سره مرسته کړې وه.

د امریکا د پوځ مشر امیرالبحر مایک مولن تېره اونۍ کانګریس ته وویل، چې د حقاني ډله د ای ایس ای نښې لاس او مټ دی او بل دا چې پاکستان ورانکارۍ او تاوتریخوالی افغانستان ته صادروي.

یوه ډله ځانمرګي بریدکوونکي روان لمریز کال د وږي پر ۲۲مه، د کابل ښار په عبدالحق څلورلارې کې یوې نوې تر کار لاندې لوړ پوړیزې سوداګریزې ودانۍ ته ننوتل او د امریکا پر سفارت، د ایساف پر مرکزي قوماندانۍ او یو شمېر دولتي ودانیو یې بریدونه وکړل.

په دغو بریدونو کې شاوخوا ۲۰ ملکي وګړو، پولیسو او د ایساف سرتېرو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.

د پاکستان د پوځ ویاند تورن جنرال اطهر عباس د لومړي ځل لپاره ومنله، چې دوی له حقاني ډلې سره اړیکې لري.

خو زیاته یې کړه، دا اړیکې د دې په مانا نه دي، چې ګوندې دوی له حقاني ډلې سره مرسته کوي.

نومورې وایي: ((د استخباراتي شبکو لپاره لازمه ده، چې له خپلو مخالفینو او تر دې چې له ترهګرو ډلو سره هم اړیکې ولري.))

اطهر عباس، چې پرون د تلې پر ۳مه یې په اسلام اباد کې دا څرګندونې کولې، ادعا وکړه، چې د حقاني ډله د افغانستان په کونړ او نورستان ولایتونو کې فعاله ده.

خو امریکایي او افغان چارواکو په ځلونو ویلي، چې د حقاني ډله د پاکستان د قبایلي سیمې په شمالي وزیرستان کې مېشته ده او له هماغه ځایه پر افغانستان بریدونه تنظیموي.

دا په داسې حال کې ده، چې پر شمالي وزیرستان د امریکا د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې د حقاني ډلې ګڼ شمېر وسلوال او مهم قوماندانان هم وژل شوي دي.

له دې مخکې د کونړ او نورستان ولایتونو والیانو هم په کلکه په خپلو سیمو کې د حقاني ډلې شتون رد کړی دی.

د پاکستان د پوځ ویاند وایي، چې امریکا هېڅکله له دوی سره په پاکستان کې د حقاني ډلې د شتون په اړه شواهد نه دي شریک کړي.

جنرال عباس وویل، چې په کابل کې د امریکا پر سفارت د شوي برید هېڅ ګټه پاکستان ته نه ده رسېدلې او په دې اړه، چې امریکا د مطبوعاتو له لارې د پروپاګند کومه لړۍ پیل کړې، د هغې به هېڅ ګټه امریکا ته ونه رسېږي.

هغه زیاته کړه، که چېرې امریکا پر پاکستان یوارخیزه عملیات پیل کړي، نو په پاکستان کې به د امریکا پر ضد نفرتونه وپارېږي.

د پڑواک د راپور له مخې، د امریکا د پوځ مشر مایک مولن ویلي وو، چې که پاکستان د حقاني ډلې پر ضد څه ونه کړل، نو امریکا به یې وکړي.

د یادونې ده، چې د کابل له بریدونو وروسته د امریکا او پاکستان اړیکې ډېرې خرابې شوې دي.

د امریکا له تندو لفظي بریدونو وروسته د پاکستان له خوا هم تند ځوابونه ورکړل شول، د پاکستان لومړي وزیر یوسف رضا ګیلاني وویل، چې امریکا دوی ته اړتیا لري او د پاکستان له مرستې پرته په سیمه کې نه شي پاتې کېدای.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیره حنا ربابي کهر، چې اوس په نیویارک کې ده، هم وایي، چې که امریکا دا ډول څرګندونې بندې نه کړي، نو د ترهګرۍ پر ضد په روانه مبارزه کې به یو ملګری له لاسه ورکړي.

د امریکا او پاکستان د رامنځ ته شوي تاوتریخوالي په درشل کې، پرون د پاکستان په راولپنډۍ ښار کې د پاکستان د پوځ د قول اردو د قوماندانانو یوه بهرنۍ غونډه هم پیل شوه.

د افغان بیسیم مخابراتي شرکت او د آریانا ټلویزیون شبکه "څوک غواړي میلیونر شي" او د "افغان بیسیم د میلیونر د لنډ لیکلي پیغام سیالي" لیدونکو ته وړاندې کوي

کابل ، افغانستان

د ۱۳۹۰ د وږي ۲۴ مه چې د ۲۰۱۱ د سپتامبر له ۱۵ مې سره سمون خوري.

افغان بیسیم، په افغانستان کې مخکښ مخابراتي شرکت او د آریانا ټلویزیوني شبکه، په افغانستان کې تر ټولو ستر ټلویزیوني ستیشن، په ګډه سره د نړۍ په زړه پورې ټلویزیوني سیالي "څوک غواړي میلیونر شي" سره د "افغان بیسیم د میلیونر د لنډ لیکلي پیغام د سیالۍ" لیدونکو ته وړاندې کوي چې یوه داسې ټلویزیوني-مخابراتي ډله رامنځ ته کړي چې ساری ونلري.

د افغان بیسیم شرکت او آریانا ټلویزیون تر منځ مرسته د ډول له مخې لومړنۍ ده. د "څوک غواړي میلیونر شي" د خپرونې هره برخه د افغان بیسیم د میلیونر د لنډ لیکلي پیغام د درې برخې درلودونکې سیالۍ لرونکې ده چې په هغه کې له لیدونکو څخه پوښتنه کیږي. هر څوک په خپل موبایل ټلیفون سره کولی شي د لنډ لیکلي پیغام پواسطه د یو کود د استولو له لارې د "څوک غواړي میلیونر شي" د خپرونې د کوربه د هرې شپې پوښتنې ته ځواب ورکړي او لومړی سم ځواب د افغان بیسیم د میلیونر د لنډ لیکلی پیغام د سیالۍ د ګټونکي په توګه په هغه شپه اعلانیږي!

ټول هغه ځواب ورکوونکي چې سم ځواب ورکړي د افغان بیسیم لخوا د مبارکۍ یو پیغام او د "څوک غواړي میلیونر شي" په ژوندۍ خپرونه کې د لیدونکي په توګه د ګډون او د افغانستان د "راتلونکي میلیونر" د امتیاز د لاسته راوړنې په موخه یو بلنلیک لاسته راوړي! د افغان بیسیم د میلیونر د لنډ لیکلی پیغام د سیالۍ د شپې هر ګټونکی یو ۱۰۰ ډالري ډالۍ کارت او د افغان بیسیم یو وړیا ټلیفون لاسته راوړي.

د افغان بیسیم د شرکت رییس ښاغلي امین رامین د دې نوښت د بریالیتوب په هکله د خپل نظر په څرګندولو سره وویل: د "څوک غواړي میلیونر شي" او د "افغان بیسیم د میلیونر د لنډ لیکلي پیغام سیالۍ" خپرونې زمونږ د پېرودونکو او ټولو خلکو پاملرنه ځان ته اړولې ده. د یوې ټلویزیوني سیالۍ سره چې د شپې لخوا په ژوندۍ بڼه خپریږي د لیدونکي په توګه د افغان بیسیم د موبایل ټلیفون د پېرودونکو نیغ په نیغه ښلوونې زمونږ پېرودونکو ته د هر موبایل ټلیفون له لارې ډېرې ورتیاوې رامنځ ته کړي دي. د افغان بیسیم شرکت کولی شي د ټولو مینه والو سره مرسته وکړي چې د خپلو موبایل ټلیفونونو له لارې په دې خپرونه کې ګډون وکړي. د میلیونر کېدو په موخه د سیالۍ له لارې بوخت اوسېږي.

د څوک غواړي میلیونر شي خپرونه له شنبې څخه تر سه شنبې د شپې له ۸:۳۰ څخه تر ۹:۰۰ پورې د آریانا ټلویزیون له شبکې څخه خپریږي.

د افغان بیسیم په هکله - د افغان بیسیم شرکت چې مرکزي دفتر یې په کابل کې دی په ټول افغانستان کې شا او خوا ۴ میلیونه پېرودونکو ته مخابراتي خدمات برابروي او همدارنګه نومورې شرکت د ۴۵۰۰ څخه زیات کسان په مستقیم او شا او خوا ۵۰۰۰۰ کسان په غیرمستقیم ډول په کار ګومارلي او په دې توګه په افغانستان کې یو تر ټولو ستر ګمارونکی شرکت دی. د افغان بیسیم شرکت ټولو کورنیو او سوداګریزه پېرودونکو ته د بیسمه اړیکو او پراخه باند (برودباند) خدماتو په وړاندې کولو کې یو مخکښ شرکت دی. زیات معلومات د دې شرکت په وېبپاڼه www.afghan-wireless.com باندې مونږ لیدلی شئ.

د آریانا راډیو او ټلویزیون په هکله – د آریانا ټلویزیوني شبکه چې د ښاغلي احسان الله بیات لخوا جوړه شوې، د افغانستان په ۳۳ ولایتونو او د سپوږمکۍ له لارې په ټوله نړۍ کې خپرونې لري. دا شبکه د افغانستان هغه خپرونې چې د هېواد په کچه تر ټولو زیات لیدونکي لري لکه د آریانا ټلویزیون خبرونه او د "۵۹ دقیقه" خپرونه، خپروي. زیات معلومات د دې شبکې په وېبپاڼه www.arianatelevision.com باندې مونږ لیدلی شئ.

په دې هکله چې څرنګه کولی شئ د "څوک غواړي میلیونر شي" په خپرونه کې یو تبلیغاتي تمویل کوونکی اوسېږئ، د زیاتو معلوماتو لپاره د ښاغلي محمد رمضان سره په ۰۷۰۰۸۰۱۸۴۶ شمېرې او یا په mark.davis@afghan-wireless.com بریښنالیک اړیکې ونیسئ.

آیا جنجال ها بر سر انتخابات...

نتایج انتخابات مخالف است، منسجم تر گردید و بر رغم تلاش ها برای از هم پاشیدن، اعضای آن متحدتر گردیدند و یکصدا با هم از حضور در نشست روز چهارشنبه (۱۶ سنبله) مجلس نماینده گان خوداری کردند.

عدم حضور اعضای ایتلاف در نشست های عمومی مجلس، کار را برای ایتلاف پارلمانی اصلاح طلبان که به صراحت از فیصلهٔ کمیسیون حمایت می کند، مشکل کرده است.

تا زمانی که اعضای ایتلاف حمایت از قانون در نشست های عمومی مجلس شرکت نکنند، نصاب مجلس تکمیل نخواهد شد و نماینده گانی که در نشست حضور می یابند، هیچ کاری مبنی بر قاون سازی از پیش برده نخواهند توانست.

این یعنی فلج شدن مجلس نماینده گان، اگر مجلس بی اعتبار بود، بیکار هم شد.

از سوی دیگر، نامزدان معترض با برگزاری نشست های از نوعی دیگر جدی تر شدند.

درست است که بیشتر نامزدان معترض برنده معرفی نشدند، اما واقعیت این است که راه یافتن ۹ نمایندهٔ معترض یک پیروزی نسبی به آنان است.

هر چند آنان قناعت ندارند و همچنان اعتراض دارند، اما همین که آقای معنوی را وادار کردند که از همان محل چوکی که گفته بود تغییر در نتایج انتخابات خواب است و محال است و جنون، ۹ نامزد معترض را برنده اعلام نماید.

نامزدان معترض روزها در رو به روی ارگ ریاست جمهوری خیمه زده بودند.

پیش از این حاجی عبدالظاهر قدیر رییس ایتلاف حمایت از قانون هشدار داده بود که اگر به جنجال های انتخاباتی پایان داده نشود، تحصن آنان تا ارگ ریاست جمهوری کشیده خواهد شد.

تصور کنید که ایتلاف حمایت از قانون هم در رو به روی ارگ خیمه بزند، آنگاه چه خواهد شد؟

احتمال می رود که بین هواداران این دو جریان برخورد فزیکی صورت گیرد؟

بادرنظرداشت این مسایل آیا می شود گفت جنجال ها پایان یافته است؟

نه؛ جنجال ها قطعاً پایان نیافته، بلکه وارد مرحلهٔ جدیدی شده؛ زیرا هیچ یک از طرفین اصلی، موافق فیصلهٔ کمیسیون نمی باشند و کمیسیون مستقل انتخابات هم با انجام فیصلهٔ اخیرش متاسفانه اعتبار خود را از دست داده است.

هند د افغانستان په بیارغونه او ...

بیارغونه وگورو او دغه سیمه له سولې برخمنه وي.

سنگ دا هم وویل چې هند به د افغانستان د بیارغونې او ثبات په برخه کې خپل رول ولوبوي او د افغانستان له بیارغونې سره به هم خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د هند صدراعظم دغه څرګندونې په داسې حال کې کوي، چې د دغه هېواد پر سیال پاکستان د امریکا او نورو هېوادونو له لوري فشار دی، چې د حقاني شبکې پر وړاندې اقدام وکړي.

پر دې شبکې تور پورې دی، چې د کابل د تېر اوونۍ په ډله ییزو بریدونو کې یې لاس درلود او د دې تر څنګ یې په افغانستان کې نور خونړي بریدونه هم کړي دي.

د پاکستان د بریدونو په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د مداخلې غوښتنه وشوه

د ولسي جرګې د دفاعي چارو کمېسیون پر افغانستان د پاکستان راکټي بریدونه وغندل او د ملګرو ملتونو له امنیت شورا یې وغوښتل، چې پاکستان دې د دغو بریدونو درولو ته اړ کړي.

د کونړ او نورستان ولایتونو چارواکو وړمه ورځ ویلي وو، چې د پاکستان پوځ پر یادو ولایتونو له تېرو دوو ورځو راهیسې د توپونو نژدې ۳۰۰ مرمۍ توغولي، چې له املې یې یو تن وژل شوی، یو تپي دی، دوه جوماتونه او اوه کورونه ویجاړ شوي دي.

د ولسي جرګې د دفاعي چارو د کمېسیون مشرې شکریې بارکزۍ د تلې پر درېیمه په کابل کې د یوې خبري غونډې پر مهال د پاکستان دغه عمل په کلکه وغانده.

هغې وویل، چې پر افغانستان د پاکستان راکټي بریدونه د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف دي او ډېر ژر باید دغه بریدونه ودروي.

د دې په وینا، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا باید ډېر ژر په دې موضوع کې مداخله وکړي او پر پاکستان فشار راوړي، څو له دغو بریدونو لاس پر سر شي.

هغې وویل، چې د افغانستان حکومت هم باید د دغو بریدونو د مخنیوي لپاره دیپلوماتیکې هڅې وکړي.

شکریه بارکزۍ وایي، چې له دې وروسته باید د افغان دولت سربېره عام افغانان هم د پاکستان د دا ډول کړنو پر وړاندې ضعیف عمل ونه کړي.

د یادونې ده، چې د روان کال له پیله راهیسې د پاکستان له خوا پر یو شمېر ولایتونو په وقفه یې ډول د بریدونو لړۍ روانه ده.

د دوو میاشتو مخکې بریدونو په ترڅ کې په کونړ او ننګرهار ولایتونو کې نژدې ۱۰۰ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې وه او سلګونه کورنۍ کډې کولو ته اړې شوې وې. د پژواک د راپور له مخې، تر اوسه د پاکستان حکومت نه ده منلې، چې دغه بریدونه د دوی د پوځیانو له خوا کېږي.

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

تامین نظم و ا منیت در دیموکراسی: همه کارمندان پولیس جزء جامعه بوده و وظیفه خدمت به جامعه را دارند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

اراده ورځپاڼه یوازې د سر لیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵-
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴-
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶-
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com